## مطبوعاتي اعلاميه

## حزب التحرير په خپلو احتجاجي غونډو کې د روهينګيا مسلمانانو له وحشته ډکه عاموژنه او د ميانمار له قاتل رژيم سره د حسينې د حکومت د ګډو عملياتو وړانديز په سختو ټکو وغنده

**(ژباړه)**



حزب التحرير ـ ولايه بنګله دېش د چيټاګونګ او ډاکې په ټولو ښارونو کې د ۲۰۱۷ م د سپټمبر پر ۸مه د ماسپښين له لمانځه وروسته لاريونونه وکړل. په دغو لاريونونو کې د حزب التحرير غړو بيانيې وړاندې کړې، چې لاندې مواردو ته يې اشاره کولی شو:

۱. وياندويانو د روهينګيا د مسلمانانو پر وړاندې د ميانمار رژيم وحشيانه عملونه او بېمخينې ظلمونه وغندل.

۲. وياندويانو همدارنګه په بنګله‌دېش کې روهينګيايي مسلمانو ورونو او خويندو ته د ځای نه ورکولو له امله د حسينې د دولت کړنلاره په سختو ټکو وغندله او دا يې يو نه بښوونکی عمل وباله.

۳. دغو وياندويانو د اراکان سيمې د مسلمانانو پر وړاندې د ميانمار له رژيم سره د حسينې د دولت د ګډو نظامي عملياتو غوښتنه سخته وغندله.

۴. همدارنګه دوی د بنګله دېش له خلکو وغوښتل چې د ميانمار له رژيم سره د بنګله‌دېش د حکومت هر ډول نظامي عملياتو پر وړاندې راپاڅېږي، هغه رد او پر وړاندې يې ودرېږي.

۵. يادو ويادويانو د دې خاورې له مسلمانانو او په ځانګړي ډول له سياستوالو او د واک له خاوندانو وغوښتل چې له حزب التحرير سره په کار کولو د حسينې دولت نسکور او ربښتينی اسلامي خلافت تاسيس کړي؛ چې هغه خلافت به په ټوله اسلامي نړۍ کې د ټولو مسلمانانو او په ځانګړي ډول زموږ د ميانمار د مظلمو خويندو او ورونو لپاره ډال شي او هغوی به د کفر له ظلم او د ميانمار له وينه څښونکي رژيم څخه وژغوري.

**اې مسلمانانو!** د میانمار وینه څښونکی رژیم له راخینو بوداپانو سره یو ځای چې په تورو، تفنگچو او وسلو سمبال دي او د بې دفاع مسلمانانو په وژلو، د بدن د غړو پرې کولو، سوځولو او جنسي تېریو لاس پورې کړی او په دغه لاره کې پر نوو زېږېدلو ماشومانو هم رحم نه کوي. دغه رژیم تر دې کچې پر خپل ظلم ټینگار کوي، هغه بې دفاع او د تېښتې په حال کې د ښځو، ماشومانو او سپینږیرو نارینه وو پر وړاندې په وسلو سمبالو موټرونو او درنو وسلو څخه کار اخلي. اوس غواړي په سرحدونو کې د ماینونو په اېښودلو سره تل لپاره د هغوی د بیا راتگ مخه ونیسي. د حسینې حکومت په دغه نسلوژنه کې د میانمار له رژیم سره غاړه پر غاړه مخ ته روان دی او هغوی ځای نه ورکوي. یو ځل بیا دغه مسلمانان د میانمار وینه څښونکي رژیم د مرمیو او  او فرش شوو ماینونو لور ته ورلیږي او د الله سبحانه وتعالی دغه امر ته په ډېرې بې شرمۍ نه وايي.

﴿وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾

[انفال: ۷۲]

*ژباړه: که (غیر مهاجر مومنان د نورو له ظلم څخه) د خپل دین په اساس له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو له هغوی سره مرسته پر تاسو واجبه ده.*

پر دې سربېره دغه رژیم د اسلام پر ضد یو گام مخکې اېښي او د میانمار په اراکان سیمه کې یې د مسلمانانو پر وړاندې د میانمار له رژیم سره د گډو نظامي عملیاتو وړاندېز کړی. د ۲۰۱۷ م د اگېسټ پر ۲۸مه د بنگله‌دېش د بهرنیو چارو وزیر د میانمار حکومت ته په یوه رسمي غوښتنه کې، چې زموږ د ورونو او خویندو وژل یې دنده ده؛ وویل: «د بنگله‌دېش دولت چمتو دی چې له دغه دولت سره د تروریزم پر وړاندې مبارزې په عملیاتو کې برخه واخلي.» د روهینگیایي مسلمانانو ستونزه یوازې د بنگله‌دېش له حکومت څخه په غوښتنو حل کېږي؛ خو یاد حکومت به له دوی سره مرسته ونه کړي، ځکه د دوی په سینو کې  د اسلامي امت درد نشته. دا هم حل لاره نه ده چې دغه رژیم هر ځل چې روهینگیایي مسلمانان له نسلوژنې سره مخ کېږي، هغوی ته د مهاجرو په توگه سرپناه ورکړي؛ ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت په خپلو اسلامي خاورو کې مهاجر نه دی. حل لاره همغه یو ځل بیا د رښتیني اسلامي خلافت تاسیس دی، چې په دغه سیمه کې به ظلم ته د پای ټکي اېښودلو لامل شي؛ چې هغه د میانمار د رژیم پر وړاندې جهاد او د یاد رژیم او بوداپانو له منگولو څخه د اراکان سیمې د فتحې لپاره د اسلامي خلافت تر رهبرۍ لاندې د بنگله‌دېش د اردو د وسله والو ځواکونو لېږل دي.

هغه کار چې ستاسو مسؤولیت دی، د بنگله‌دېش په اردو کې له سرتېرو وغواړئ چې دغه رژیم نسکور او واک حزب التحریر ته وسپاري؛ څو دغه حزب د نبوت پر تگلاره خلافت تاسیس کړي او امت خپل پخواني عزت ته ورسوي. تاسو باید دغه پیغام په اردو کې خپلو ملگرو، د کورنۍ غړو او خپلوانو ته ورسوئ. له هغوی سره خبرې

وکړئ او فشار پرې راوړئ چې له همدې لارې موږ او تاسو خلافت ته ورسېږو. یوازې خلافت د ټولې نړۍ د مسلمانانو اساسي او بنسټيزه حل لاره ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيتَّقَى بِهِ**» (صحيح مسلم)

***ژباړه:*** *یوازې امام (خلیفه) ستاسو ډال دی چې تاسو یې تر شاه جګړه کوئ او په واسطه یې ساتل کېږئ.*

**د حزب التحرير ـ ولایه بنګله دېش مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: ۱۴۳۸/۱۲/۰۲**

**۱۴۳۸ هـ.ق، د ذولحجې ۱۷مه**

**۲۰۱۷ م، د سپټمبر ۸مه**